محمد نادر جار ۲۰۱۰/۱۱/۲۹

# د امریکې دوه مخی سیاست

څو شپې مخکې مې په یوه بربښنا پاڼه کې ولوستل چې د شمالي ټلوالو یو څو مخورو کسانو په برلین کې د امریکې له مشرانو سره کتلي دي٠ د لویدیځوالو په تیره بیا د امریکایانو د دومره پټو کتنو غرض به د شمالي ټلوالو سره د څه په غرض وي، پدې هکله غواړم یو څوټکي په عرض ورسوم٠

امریکې د افغانستان د بیارغونې او د اقتصادي او نظامي مرستو تر څنګ په هېواد کې د ترهګرو سره د جګړې په پلمه په کراتو مراتو زیات شمېر بېګناه افغانان په خپلو ړانده بمباریو شهیدان کړل، کورنه یې ورړنګ کړل او په کورو یې وروختل او د خلکو بې غزتي یې وکړې چې د افغان شتمن کلتور سره خورا په ټکر کې وو، دي او وي به ! یوازې پښتانه !په خواشینې سره چې دپښتنو سیاسی واکدارانو څه د لاسه پوره نه شول چې د مخنیوي لپاره یې کوم څه کړي وي٠ اداري کړنه په رشوت او درغلیو بنسټ کېښودل شو او دهېواد لپاره ورکړل شوې مرستې هم په پوره پیمانه د مرسته کوونکو هېوادو د غلو حیف و میل شوې٠ که نه په دغو ملیاردو ډالرو به اوس په افغانستان کې چا د ګدائې کچکولونه نه وای په غاړه، او خلکو به د یوې ګولۍ ډوډۍ پیدا کولو لپاره د خپلو کورونو بچیانواو کورنیو پرېښودو ته نه وای اړ شوي چې پردیو هېوادو ته مخه وکړي٠ ملي پوځ او ملي پولیس له هماغو جګړه مارو ډک کړای شول چې د هېواد په ورانولو کې یې له هیڅه هم صرفه نه وه کړې او د بېګناه افغانانو په وینو یې هم لاسونه تر تخرګیو سره وو٠ په هره پلمه چې وه دا جنایت کوونکي په ملت وتپل شول چې د اولسواکۍ سره البته په ټکر کې وو٠ ملي ژبه) پښتو (یې یوازې په رسمیتوب ومنله او د ملي هویته یې یو نه منونکۍ انکار وشو٠

ورځ په ورځ یې د شمال څخه پښتانه له خپلو مېنو وشړل،کورونه او ځمکې یې ترې ونیوې او ډیري یې هم د ترویستانو په نوم یا خو یې ووژل او یا خو یې زندانو ته واچول چې د پوښتنې یې لاتر اوسه هم څوک پیدا نشول٠

شمالي ټلواله په شمال کی ورځ په ورځ په پوره اندازه په زغروالو وسلو سمبال شول اوکیږي٠ د شمالي ټلوالو منځي اختلافاتو دمنځه وړلو لپاره تر وسه لویدیځوالو دومره کار وکړ او کوي یې چې محقق صاحب خو نږدې وو نور ملي خائین مسعود ته نعوذبالله د پیغمبری درجه ورکړي٠ پخوا هم دا زیار د دوئ تر منځ لویدیځوالو کاوه، خو سره لدې بیا هم د خپلو عاداتو له مخې خپلو کې به ښکر په ښکر کیدل٠

یوازنۍ علت منطق او اساس د دغه د اتحاد کړۍ چې دوئ سره راټولوي ، پښتون ضده، افغان ضده او وطنپلورونکي مفکوره ده، چې خپلو کې سره شریک ګډل کیږي، که نه دومره هزاره او اوزبکو وروڼو چې د جمعیت له ډلو ژوبله لیدلې، پښتنو خو هیڅ هم ندي ورسره کړي!

نو لویدیځوال قدرتونه به ولې نه غواړي چې دا ډول ناولي او ګنده بویه ډلې ټپلې چې نه ملت پیژني او نه د خپلو پلرونو هویت، د ځانه سره داسې په لاس کې ونه نیسي ؟، چې له هره پلوه یې متې غښتلي وي٠ د افغان ملت پر سر چې کومه ناروا د لویدځوالو خوښه وه، د خپلو شومو نخرو لپاره به مخې ته پراته خنډونه د شمالي ټلوالو په ملتیا له منځه وړي٠ امریکې دا پیدا کړي ده چې د دوئ ساز ته څوک په ښو بدرګو سره ناڅي او څوک د دوئ د لاسونو په ښګلولو د یو او بل څخه یو ګام وړاندي او تکړه دي ٠

خیر پدې هکله خبرې ډیري دي دا ټولو ته ښکاره ده او له دغو پورتنیو ټکو ثابتیږي چې امریکې د ځان لپاره دوستان نه، بلکه لاسپوڅی لټولي دی چې د ترهګرو سره د جګړې په پلمه نورې پټې دسیسې او دوه مخی سیاست په ګران افغانستان کې مخ ته بوځي٠ امریکا د خپلو مرستو تر څنګ غواړي چې دافغانانو ټاټوبی خپل یو ایالت وګرځوي، یاخو غواړي چې نوره افغانستان د اوسني سیاسی جغرافیې څخه ورک کړي او یو نوی هېواد خراسان راوزیږوي او پښتانه به پاکستان ته وروبخښي ٠ او یا به د خراسانیانو په مټ د دیورند کرښه په خپل لاسپوڅو په رسمیت وپیژني٠ نتیجه دې ته رسیږي چې امریکا غواړي چې د یو څو ډالرو په بدل کې هېواد له افغانانو واخلي٠ که دا ټول سم ندي نو امریکه نور په ګران افغانستان کې غواړي څه؟

دومره پښتون ضده افکار چې له دوئ سره شته او دومره خر اسانیان چې ددوئ له برکته راوزیږول شول او دومره پښتانه چې دوئ راشهیدان کړل او دومره بمبارۍ چې دوئ پر پښتنو وکړې په تاریخ کي چا ندي کړي٠ امریکې خو له روسي سور پوځ څخه هم څو ګامونه وړاندې کړل او واقعاًچلنج یې ورکړ٠

که د امریکې په دا ډول مغرضو او پښتون ضده سیاستو سره نور شک د یقین په لور مخه کوي، نو امریکه نور په هیڅ وجه د افغانستان یو دوست نه بلکه یو غټ دښمن بلل کیدای شي٠

نو که امریکه د خپل سیاست تر سیورې لاندې داسی بدبویه ګلان راته کري او یوازې د ترهګرو سره د جګړې په پلمه د پښتنو ورکیدو او له پښتنو د ټاټوبي اخیستو په منطق زما هېواد ته راغلی وي ، نو بیا خو عقل اوایمان او


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

پښتونولي دا حکم کوي او دا به د هر افغان مسلم حق وي چې د امريکې سره د افغان ولس په تېره بيا د وطنپالو پوهانو تاريخپوهانو څېړونکو اديبانو ليکوالو سياستوالو مخه ورو ديني علماؤ او قومي مشرانو لخوا د جهاد اعلان وشي٠ هغه وخت چې د جهاد اعلان ته به خورا ناوخته وي اوس هم دومره اوبه له ورخه ندي اوښتي چې د پښتنو او نورو وطنپالو افغانانو له وسه څه نه وي پوره٠

اوس که افغان افغانستان ساتلی شي او په سياسی او اقتصادي برخه کې يې څه د وسه پوره وي، نو متې دې د خپل هېواد لپاره راونغاړي او د يووالي لاسونه دې سره ورکړي او لاس تر ځني ناستې ته دې د پاي ټکی کيږدي٠ چې هېواد له دغه مصيبته وژغورل شي او که له وسه يې نوره څه نه وي پوره، دا خو به يې له وسه پوره وي چې د امريکې پټ دسايس خلکو ته رسوا کړي او د وتلو يې غوښتنه وکړي٠

کله چې دا ډول دوه مخی سياست وي او دا ډول هم افغان) پښتون (او افغانستان ته دسيسې، نو افغان او افغانستان بيا باندنيو ځواکو ته په هيڅ وجه اړتيا نلري٠ دا چې کومه بلا به په مونږ راځي د مونږه خپله له لاسه به وي٠ بس پريږده چې پرې راشي ٠ ځکه يو ملت کله چې د خپل هېواد لپاره دومره تش لاسی او دومره بې کسه وي، او د افغان سياستوالو مشرانو او مخه ورو سياسي او وطنې پوهه او درک پدې سويه وي او په خپلو مو دومره بې باوري موجوده وي چې يره که امرېکه نه وه نو پاکستان به مو د پښو لاندې کړي او يا ايران، نو لاندي دې کړي او د مور شودې يې هم شه٠

ځکه چې دا ډول ملتونه بيا د منطق له مخې د همدا ډَول د ويشلو او د پښو لاندې کولو وړتيا لري تر څو د تاريخ په پاڼو کې يې هويت د منځه ولاړ شي،

که نه چې خدای ج دې داسی هيڅ وخت نه کا، نو بيا:

ای افغان وطنپال سياستوال او کارپوه اومشره!

ای افغان وطنپال ليکوال او څېړونکيه!

ای افغان پوهنيار پوهنمل او پوهنواله!

ای افغان ډاکټر انجنير او متخصصه!

د افغان او افغانستان نجات لپاره د عمل ګامونه را په ګوته کړه او مخ ته شه چې نور هم درپسې شي، تر څو هېواد او افغان دې له دغه پوه پناه کيدو وژغورل شي٠

په درناوې

پای



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ